**مطبوعاتي اعلامیه**

**امنیتي ځواکونو د حزب التحریر یو غړی برمته کړ**

**محمد الاحمدي**

په یوه ویرونکي ننداره کې، د امنیتي ځواکونو یو لوی ځواک، د حزب التحریر غړی، محمد الاحمدي د ۲۰۲۱م، د جولای په ۲۹مه، د سیدي بوزید په لویه لار کې د حزب التحریر ـ ولایه تونس له لوري د یوې مطبوعاتي اعلامیې د ویشلو پر مهال برمته کړ. هغه غوښتل چې د ولسمشر سعید له لوري نیول شوي اقدامات افشا کړي، د تونس پر خلکو او په اردو کې پر وفادارو غړو یې غږ کاوه، چې حزب التحریر ته واک وسپاري، څو د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس کړي او هېواد د پردیو له نفوذ څخه وژغوري.

**د حزب التحریر له یوه غړي څخه د پولیسو په مرکز کې د هغې مطبوعاتي اعلامیې په اړه وپوښتل شول چې سرلیک یې و:** ~~د ۸۰مې مادې فعالول؛ له نویو ځېرو سره د هماغه نظام ساتنه ده ایا له اغزیو څخه انګور تر لاسه کېدای شي!؟~~ **بیا له هغه څخه وغوښتل شول، چې له راتلونکې دوشنبې وړاندې د لوی څارنوال پر وړاندې حاضر شي.**

اې د تونس واکمنانو! ایا ستاسو په فاسد رژیم کې د امنیتي ځواکونو رول همدا دی؟ د هغه چا وېرول او نیول چې د غدارانو پر وړاندې خپل غږ پورته کوي او د دوی دسیسې خلکو ته افشا کوي!؟

موږ حزب التحریرـ ولایه تونس دا تاییدوو، چې د وېرې پیغام، له برمته کېدو سره مل دی او موږ د ګوښه شوي ولسمشر د سیاسي پولیسو په فکر کې اچوي، د ظالمو واکمنانو او د هغوی د بادارانو پر وړاندې له مبارزې یې نه شي راګرځولی. موږ یو ځل بیا د تونس له خلکو او متنفذینو څخه غواړو چې د دې خلکو مخنیوی وکړي، چې د الله سبحانه و تعالی له لارې خلک باسي او اور پر اور ډېروي او یوازې د خپلو منافعو په فکر کې دي.

الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِهِ وَتَبْغُونَهَا عِوَجاً]** [اعراف: ۸۶]

**ژباړه:** *او پر هره لاره د شکولو لپاره مه کښېنئ چې: خلک ووېروئ، مومنان د الله تعالی له لارې منع کړئ او د سمې لارې د کږولو په هڅه کې شئ.*

**حزب التحرير- ولايه تونس**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د ذي الحجې ۲۰مه**

**۲۰۲۱م، د جولای ۳۰مه**